شریف بهاند ۲۰۰۸، ۲، ۲

# د ډالر او یورو تر منځ پټه سیالي

دویمه برخه

### ۲ - د پترو ډالر - رسیسلېنګ* Petrodollar -Recycling پړاو:

د امریکایي پېړۍ American Century د لومړی پړاو له ارزونې دا پایله ترلاسه کېږي، چې په نړیواله کچه د بریتانیا او متحدو ایالتونو د ناکامو اقتصادي سیاستونو له امله د دوي د هر یو پیسه، سترلېنګ پوند او په تیره ډالر د پیسو د بنسټیز واحد په توګه، له سترو ستونزو سره مخامخ شوه. ان دا چې د متحدو ایالتونو اداره دې ته اړ شوه، سره زر د ډالرو د ملاتړ (پشتوانه) په توګه له منځه یوسي او په ځای یې د ۱۹۷۱ کال د اګست په میاشت کې ازاد ارزی سیستم frei flotierendes Währungssystem رامنځته کړي. د متحدو ایالتونو د اقتصادي سیاست د بدلون "موخه یوازې دا وه، چې نړیوال اقتصاد کنټرول او هر هغه هیواد چې تر کنټرول لاندې نه راځي، اغیز یې له منځه یووړی شي" ( Engdahl, F. William, ۲۰۰۳, Nr. ۲, S. ۲۰٤).

خو د متحدو ایالتونو د اقتصادي سیاست دغه بدلون هم دومره ګټه و نه کړه. ځکه له متحدو ایالتونو څخه اروپا او چاپان ته د پانګې تښته لا زیاته شوه او ډالر خپل ارزښت د سرو زرو او همدارنګه د نورو ارزونو، د ساری په توګه د المانی مارک په وړاندې، ځلویښت په سلو کې له لاسه ورکړ، چې دغه حالت نه یوازې پر مالي بازارونو، بلکې پر نړیوالې سوداګرۍ ناوړه اغیز وکړ. نو له همدې امله د ۱۹۷۳ کال د مې په میاشت کې د وخت د سترو اقتصادي ځواکونو د سیاسي او مالي ځانګو تر ټولو غوره یوې ۸۴ کسیزې ډلې، چې د بیلدربرګ Bilderberg په نامه یادیږي او د ۱۹۵۴کال د مې د میاشتې راپېدېخوا څه نا څه په پر له پسې توګه د نړۍ د مالي مسایلو په اړه خبرې اترې تر سره کوي، دسویډن د زلز یوبادن Saltsjöbaden په ټاپو کې پټه غونډه وکړه.

د غونډې برخه والو ته د امریکایی پلوی یو غړی یوه سناریو وړاندې کړه. په هغې کې روښانه شوې وه، چې ښایي په راتلونکی نږدې وخت کې د تیلو د صادرونکو هیوادونو (اوپک) د تیلو له خرڅلاو څخه ترلاسه شوی عاید ۴۰۰ ٪ زیات شي (وګوري:Engdahl, F. William, ۲۰۰۳, Nr. ۱). خو د زلز یوبادن د غونډې د رابللو موخه د نړۍ د انرژۍ د بیې د لوړیدو مخنیوي نه، بلکې بر عکس " د تیلو د بیې د لوړیدو د ویرې برابرول و او داسي پلانونه یې طرح کړل، چې د تیلو له خرڅولو څخه ترلاسه کیدونکي ډالر (د تیلو ډالر Öldollar) څنګه کیدای شي، په بنه توګه وکارول شي. هنری کېسنجر په دې اړه د پترو ډالر - رسیسلېنګ له سکالو (موضوع) څخه یادونه وکړه" ( Engdahl, F. William, ۲۰۰۳, Nr. ۲, S. ۲۰٥).

د دغې پریکړې بنسټیزه موخه د انګلو- ساکسون له رپ رپا (تزلزل) سره د مخامخ شوو مالي ګټو بیرته ټینګښت او په نړیواله کچه د پیسو پر بهیر د کنټرول ترلاسه کول و. متحدو ایالتونو او بریتانیا په دې برخه کې له پلان سره سم د تیلو له وسلې څخه کار واخیست. " د دوی پلان ډیر ساده و. پر تیلو نړیوال بندیز باید د هغو سمبالښت (تأمین) په توله نړۍ کې په اغیزمنه توګه له خنډونو سره مخامخ [او] دغه

---

* د تیلو د تولید کونکي هیوادونو د نا لګښت شویو پیسو نړیوال بهیر (دوران) ته بیرته اچول


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

حالت به په نړۍ کې د تیلو بیه په ډراماتیک ډول لوړه کړي. دا چې له ۱۹۴۵کال راپدېخوا [د تیلو نړیوال بازار د امریکا د تیلو د کنسرنو تر کنترول لاندې دی، دا معمول شوې، چې د هغو نړیوال حسابونه په ډالرو محاسبه کېږي. د تیلو له بیې سره سم باید امریکایي ډالرو ته غوښتنه (تقاضا) هم لوړه شي. ډالر ته مخ په زیاتیدونکي غوښتنه به هغه اغیز، چې پر ډالر دی، له منځه یوسي او د ارزښت ساتنه به یې وکړي. ډالر ته زیاتیدونکي غوښتنه به هم د هغو دریځ پیاوړی کړي، چې هغه چاپ او وراندې کوي" (Engdahl, F. William, ۲۰۰۳, Nr. ۲, S. ۲۰۷).

د زلز یوبادن Saltsjöbaden د ستراتیژۍ له طرحې پوره شپږ میاشتې وروسته په ربښتیا هم د تیلو بیه لوړه شوه. لامَل یې د یهودانو د پخلاینې د جشن یا یوم - کېپور Jom - Kippur په ورځ د مصر او سوریې پوځې یرغل پر اسراییلو و. ایا دا یوه ناڅاپي پیښه وه؟ نه. ځکه د متحدو ایالتونو د پخوانی ولسمشر، روزولت په اند: "هیڅ شی په ناڅاپي ډول نه پیښېږي، که پیښ هم شی، هغه به په هم دې ډول پلان شوې وي". د دغې جګړې په پیښدو کې هم د نکسن د ملی امنیت د چارو سلاکار، هنری کېسنجر ځانګړی رول درلود. د کېسنجر میتود په دې کې نغښتی و، چې نوموړی به " د تک راتک په دیپلوماسي " سره، د دښمنو اړخونو د یوه لوری جوابونه بل لوری ته په خپل اند او طریقې سره بیان او څرګند کړل، چې د هغه دا ډول کړنه د جګړې او بالاخره د عربو له خوا د تیلو د بندیز لامَل شو (وګوري: Engdahl, F. William, ۲۰۰۳, Nr. ۲, S. ۲۰۸).

د یوم - کېپور Jom – Kippur یا د عربو په اصطلاح د اکتوبر د جګړې له پیل څخه لس ورځې وروسته د اوپک د سازمان غړو هیوادونو د ویانا په غونډه کې له یوې خوا د تیلو بیه اویا په سلو (هر بیرل له ۰۱ ،۳۰ ډالرو څخه ۱۱ ،۵۰ ډالرو ته) کې لوړه او له بلې خوا یې د خپلو تولیداتو ونده پنځه په سلو کې راټیټه او متحدو ایالتونو او نیدرلند ته د خپلو تیلو پر صادراتو بندیز ولګاوه. دوې څو میاشتې وروسته یانې د ۱۹۷۴ کال د جنورۍ په لومړۍ نیټه د تهران په غونډه کې یو ځل بیا د خپلو تیلو د هر بیرل بیه ۶۵ ، ۱۱ ډالرو ته لوړه کړه (وګوري: ۲۱۱-۲۰۹ .Engdahl, F. William, ۲۰۰۳, Nr. ۲, S).

د زلز یوبادن د ستراتیژۍ په پلي کیدو سره، د تیلو د بیې دا ډول لوړیدو له یوې خوا د هغو واردونکي، له المان څخه نیولی تر هند، چاپان، ارجناتین او په تیره پرمختیایي هیوادونه له دې ستونزې سره مخامخ کړ، چې دوې به څنګه او له کومو لارو ډالر ترلاسه کړي، چې د خپلې اړتیا وړ تیل واخیستلي شي، او له بلې خوا د تیلو صادرونکي هیوادونه (اوپک) د هغو د لوړې بیې له امله په پترو ډالر کې ډوب شول. د اوپک د سازمان غړو هیوادونو نشو کولې، له دغه اندازه پترو ډالر څخه په خپلو هیوادونو کې ګټه ترلاسه کړي، نو ځکه د دغو ډالرو یوه زیاته برخه د لندن او نیویارک بانکونو ته، په یوې نوې پروسه کې د ګټې اخیستنې په موخه، ولیږدول شول. هنری کېسنجر دغه پروسه په نامه دې پترو ډالر - رسیسلینګ Petrodollar -Recycling یاده کړې ده. امریکایي او بریتانوي بانکونو به د اوپک له غړو هیوادونو څخه ډالر ترلاسه او بیا به یې هغه د یورو- ډالر* د پور د سند Eurodollar - Bond او یا د پور په بڼه، هغو پرمختیایي هیوادونو ته، چې د تیلو د وارداتو د تمویل او نورو پرمختیایي پروژو له پاره هغو ته اړینه اړتیا درلوده، ورکول. د پترو ـ ډالر د پور زیاتیدل د تیرې پیړۍ د اومې لسیزې له نیمایي وروسته د پرمختیایي هیوادونو د پورورل کیدو بنسټ شو. دغه کړکیچ هغه وخت لا نور ژور شو، کله چې " په کال ۱۹۷۹ کې متحدو ایالتونو د کمزورې ډالر د ژوغورنې په موخه، په یو اړخیزه توګه د بانکې وګې (سود) ونده لوړه کړه" (Engdahl, F. William, ۲۰۰۳, Nr. ۱). په دې توګه له اقتصادي پلوه پرمختیایي هیوادونه د صنعتي هیوادونو د دولتي او خصوصي په تیره د امریکایي او بریتانوي بانکونو په پورونو او د هغو په لوړې وګې کې ډوب شول. د بیلګې په توګه د نوموړو هیوادونو د سوداګرۍ د بیلانس کسر په ۱۹۷۴ کال کې ۳۵ میلیارده ډالره و (وګوري: Engdahl, F. William, ۲۰۰۳,

* د اروپایي هیوادونو په مرکزي بانکونو کې زیرمه شوي ډالر


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

(Nr. ۲, S. ۲۱٦، چي هغه په ۱۹۷۶ کال کي ۴۲ میلیاردو ډالرو ته لوړ شو (وګوري: Engdahl, F. William, ۲۰۰۳, Nr. ۲, S. ۲۳٦). د پرمختیايي هیوادونو د پوروړ کیدو دغه لړی همداسي دوام درلود. د دوي د تولیز پور ونډه په ۱۹۸۷ کي ۲۸۶ .۱ میلیارده ډالره، په ۱۹۹۰ کال کي ۳۴۱ .۱ میلیارده ډالرو (وګوري: Handbuch für Internationale Zusammenarbeit, Bd۱, I۰۰۰۲, ۱۹۹۳, S.۲۰) ته لوړه شوه. لاندنی جدول د پرمختیايي هیوادونو د پورونو ونډه لا په ښه توګه روښانه کوي.

**د پرمختیايي هیوادونو د پور ونډه (شمېرني په میلیارد ډالرو)**

| کال | د پرمختیايي هیوادونو د پور ونډه | |
|---|---|---|
| | تول پرمختیايي هیوادونه | د هغو په ډله کي: تر تولو بیوزلي او زیات پوروړي هیوادونه |
| ۱۹۹۸ | ۲۵۲۲. ۹ | ۱۵۲. ۱ |
| ۱۹۹۹ | ۲۵۶۲. ۵ | ۱۵۱. ۹ |
| ۲۰۰۰ | ۲۵۰۳. ۹ | ۱۴۵. ۹ |
| ۲۰۰۱ | ۲۴۷۱. ۴ | ۱۴۳. ۵ |
| ۲۰۰۲ | ۲۵۳۳. ۳ | ۱۳۹. ۹ |
| ۲۰۰۳ | ۲۷۲۴. ۹ | ۱۴۵. ۸ |
| ۲۰۰۴• | ۲۷۶۳. ۰ | ۱۴۵. ۳ |
| ۲۰۰۵• | ۲۸۳۰. ۱ | ۱۴۸. ۹ |

• اټکل شوي شمېرني

اخځ:

Die Zeit, Nr.٤٢, ٠٧,١٠,٢٠٠٤

د پترو- ډالر د برتري پراو نه یوازي د ډالرو د ژوغورلو هځه وه، بلکي د هغه په مرسته متحدو ایالتونو د خپلي د ترلاسه شوي برتري له جیوپولتیکي ماتي څخه ځه نا ځه مخنیوي وکړ. د ډالر ارزښت او د متحدو ایالتونو برتري هغه وخت لا نور ټینګښت وموند، کله چي " په ۱۹۷۵ کال کي د اوپک د سازمان غړو هیوادونو په رسمی توګه اعلان وکړ، چي خپل تیل یوازي په ډالرو خرڅوي. د متحدو ایالتونو د یوي پټي پوځي اعلامیي له مخي، د هغه بدل، د سعودي عربستان په وسلو سمبالول و" (Engdahl, F. William, ۲۰۰۳, Nr. ۱). خو سره د هغه هم د تیري پیړی په اتمه لسیزې کي یو ځل بیا په چاپان کي داسی نظریه رامنځته شوه، چي ۳ ازره لکه ډالر، چاپانی ین او المانی مارک دي، د نړی د ارزي زیرمو رول سره وویشي. خو د دوي دغه وړندیز هیڅکله و نه منل شو او د سرې جګړي تر پایته رسیدو پوري ډالر پرته له کوم سیاله د مخکښ ارز په توګه او د پیسو بنسټیز واحد پاتی شو.

پاتي نور بیا



افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de